# مهاجرت

ها بها ر نور نه راځی پرما له سره
چی وطن کی اوم خوشحال او لوړسره
کل اختیا ر او آزاد می پخپل ژوند اوم
ګرځید م د خپل هیواد په لر او بره
نه پوښتنه د ویزی او اقا مت وه
نه بند یز وه پرما له کوم دفتره
نه چا ما ته ویل چی ته څوک یی؟
پخپل خوښه ګرځید م شا م او سهره
د وطن له پیداوار اوم بهره مند
د همزولو سره تلم تل په چکره
د ملګرو سره کوز او بر تلمه
هرشپه می وه برات ورخ می اختره
راپیدا توربلاګا نو شو په وطن کي
تول له پوهی او دانشه بی خبره
کنډوالی دوطن په هرخوا جوړ کړل
پا تی نشو لا په غرونو کی نیښتره
پل پلچک اوودان یی تول نسکورکړل
رنا ورخ یی پر افغا ن کړل محشره
دا د د ین او د مذ هب تیکه دارانو
شتمنی دخلک کړل غلا له هره کوره
له هیواد خلک مجبورتول په فرارشو
چي واک ورسید په واک دځو لډ ره
اوس وطن سوځی په اورد نفاق کي
جها دی واکدا ران تول بی خبره
ها چي څه مو ویل اوس یی وینو
هره ورځی له بل ورځی ډیربد تره
اوس چا ړه تر هډ وکو رسید لي
واسکټ پوشوراځی ا وس له خیبره
خوب موبس دی افغانانورا بیدارشی
له هیواده کړی ورک دا شور وشره

*له ا شرار او مجاهد و کړی پوښتنه*
*چي افغا ن مو ولی وکړل در په دره*
*زر د خلکو محکمی کړی دایره*
*له قدرته کړی نسکور دوی له یوسره*
*لاری پا کی کړی بچو او خپل مسو ته*
*هیره نکړی د (مل) دا سوچه خبره*
*********

**پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)**

**جرمنی «2019-03-08»**